مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

مصطفی پسرلی ۲۰۲۳/۰۷/۱۱

# غــزل

ز ه کافر او که ملحد  که مسلمان شوم
د مُلا صاحب فتوې ته حق حېران شوم

ما په علم د نجوم خدای پیژندلی
مُلا وايي د کافر په لار روان  شوم

ډک سیندونه، لوی ډاګونه خدای راکړي
وږی، تږی جل وهلی د جهان شوم

پدې پوی یمه چې دومره نه پوهېږم
دومره پوی یمه چې سخت ومه آسان شوم

د جنت د سپیونو حورو په هوس کښې
مرتکب زه د قتلونو د انسان شوم

عجب حال مو په هیواد دی پسرلیه
که ريښتيا وايم په ځان باندې تاوان شوم

مصطفی پسرلی
09/Jul/2023


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ